د افغانستان اسلامی امارت

لـــوړو زده کـــړو وزارت

التقوا د لـــوړو زده کـــړو مؤسسه

اقتصــــــــاد پوهنځی

# د اقتصـــــــــاد پوهنځي

# ستراتیژیک پلان

۱۴۰۰ – ۱۴۰۴ لمریز کال

ترتیب : اقتصاد پوهنځي ستراتیژیک پلان کمېټه

# د مطالبو فهرست


د اقتصاد پوهنځي د رئيس پيغام.......... 1
د اقتصاد پوهنځي لپاره د ستراتېژيک پلان چوکاټ .......... 2
مقدمه (کليات).......... 3
د اقتصاد پوهنځي علمي او اکاډميک فعاليتونه: .......... 3
د کادرغړو ظرفيت لوړول: .......... 5
علمي څېړنه او پلان جوړونه:.......... 6
د کريکولم پراختيا: .......... 7
د کېفيت تضمين او اعتبارورکونه:.......... 8
د ښونيزو موادو چمتو والی: .......... 8
د بريښنايي زده کړو پروګرامونه:.......... 9
د محصلينو لپاره د خدماتو او اسانتياوو پراختيا:.......... 10
لوړو زده کړو ته لاسرسی: .......... 10
الف) د پوهنځي د رامنځته کېدو لاملونه .......... 11
ب) د استادانو شمېر .......... 12
ج) درسي ميتودونه .......... 15
د) لکچر ميتود ؛ .......... 16
و) درسي سيستم او تحصيلي نصاب: .......... 16
ه) تجهيزات او وسايل:.......... 16
ی) د ستراتېژيک پلان د پروسې قاعدې او طريقې: .......... 16
مخکښې ستراتيژي .......... 17
لرليد (vision) .......... 18
ماموريت (Mission).......... 18
ارزښتونه (Values).......... 18
د ستراتېژيک پلان پنځه ګونې برخې .......... 18
د داخلي او بهرنيو عواملو مقايسه او نهايي نمرې.......... 30
د داخلي او بهرنيو عواملو نهايي نمرې MATRIX EXTERAL & INTERNAL .......... 30
ستراتيژيکې موخې.......... 35

د اقتصاد پوهنځي پنځه کلن مالي پلان........................................................................................................39
د پوهنځي د ستراتیژیک پلان د پلي کیدا عملیاتي پلان ۱۴۰۴.۱۴۰۰ هـ ل ................................ Error! Bookmark not defined.
د ستراتېژۍ تطبیق ..........................................................................................................57
استراتېژۍ ارزيابي..........................................................................................................58
پایله..........................................................................................................59


بسم الله الرحمن الرحیم

# د اقتصاد پوهنځي د رئیس پیغام

یو داسې ځای چېرته چې  د یو متغیر انساني چاپیرال او د پرمختللې ټولنې یوه برخه او وسې د التقواء د لوړو زده موسسه د خپلې ښه کلنې علمي تجربې سره د اقتصادي علومو په برخه کې یو مخکښ ګام پورته کړی.

د التقواء د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځی د اقتصاد په برخه کې د لسانس په کچه د تیوري تر څنګ عملي زده کړې فرصت  وړاندې کوي، د اقتصاد پوهنځی د خپل معیاري تحصیلي نصاب په لرلو سره مارکېټ ته د تقاضا مطابق وړ اشخاص وړاندې کوي چې په نوموړې برخه کې د مدیریتی محاسبې، مالي او بانکداری پرمختایي اقتصاد ایکانومټریکس ،نړیوال اقتصاد، د پروژو مدیریت او عملي ریسیرچ په مطالعه سره د لسانس په کچه محصلین په ټولنه کې د تصمیم نیولو، پلان جوړولو او د کاروبارونو او وارداتو کې د مدیریت ترسره کولو لپاره محصلین روزي.

اقتصاد پوهنځی د لیسانس په برخه کې د ګروپي کار،د مفاهمی مهارتونه، رهبری د کارکوونکو د مهارت د پرمختګ او د انګلیسي مهارتونو په لرلو سره غواړي چې محصلین ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړي. د التقواء د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځی غواړي چې په افغانستان کې د معیاري پوهنتونونو په سطحه د اقتصاد د علم په ګاڼه سمبال فارغان ټولنې ته وړاندې کړي ترڅو ګران هیواد ته د لا ښه خدمت جوګه شي.

## د اقتصاد پوهنځي لپاره د ستراتېژیک پلان چوکاټ

### د ستراتېژیک پلان د جوړولو مراحل



## مقدمه (کلیات)

د اقتصاد پوهنځی د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې له تآسیس سره سم په (۱۳۹۱) هجري لمریز کال کې رامنځ ته شوی دی او له هماغه ورځې را په دېخوا په علمي ډګر کې هلې ځلې شروع کړې دي، تر څو په مالي او اداري برخو کې متخصص کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

څرنګه چې دغه پوهنځی د هیواد مالي او اداري برخو ته د کاري قوت تولیدونکي نهاد دې، څکه نو لازمه ده چې په دې تحصیلي نهاد کې تدریس د ټولنې له غوښتنو او ارزښتونو سره سم عیار شي، ددغه هدف ترلاسه کول کومه اسانه چاره نده او تل له ننګونو او ستونزو سره مخ وي په ځانګړې ډول په اوسنې وخت کې چې د قانون حاکمیت زمونږ د ټولنې له مهمو او مبرمو اړتیاوو څخه ګڼل کېږی، دغه رسالت د اقتصاد پوهنځی ملکفوي ترڅو د اوسنی او راتلونکي ځوان نسل روزنه په پوره دقت او د ټولنې له اړتیاوو سره سم تر سره کړي.

په دې پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې اقتصاد پوهنځی خپل لیدلوري او اهدافو ته په کتو د خپل ماموریت

په موثره توګه ترسره کېدو لپاره ټولې اړتیاوې او اسانتیاوې په هر اړخیزه توګه په پام کې نیولې دي. د دې پلان د ترتیبولو لپاره د علمي شورى د پریکړې پر بنسټ کمیته و تاکل شویه چې غړي یې د دواړو اړوندو ځانګو څخه تعین شوي دي. په یاد پلان کې پر بنسټیزو تاسیساتو او اسانتیاوو رامنځته کولو سربېره، د پوهنځي علمي، اکاډمیکو او څېړنیزو چارو د پراختیا په برخه کې ظرفیت لوړونې او علمي پروګرامونو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. د دې ستراتېژیک پلان په ترتیبولو کې د التقوی د لوړو زدکړو مؤسسه او د اقتصاد پوهنځي ستراتیژیکو پراختیایي پلانونو او د ښکېلو خواوو رغنده نظرونه په پام کې نیول شوي چې داقتصاد پوهنځي اداره یې بشپړ پلي کېدو ته ژمنه ده.

## د اقتصاد پوهنځي علمي او اکاډمیک فعالیتونه:

د پوهنتونونو، پوهنځیو او علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول دي. په همدې اساس، اقتصاد پوهنځي اداره په پام کې لري چې د یو با کېفیته او پرمختللي پوهنځي په توګه بېلابېل ساینسي، ټولنیز او څېړنیز پروګرامونه پر مخ یوسي چې له امله یې په هېواد او نړۍ کې د انساني ژوند په ښه والي او پرمختګ کې پوره ونډه لرلې وي. په دې لړ کې پوهنځی د علمي او اکاډمیکو پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د تخصصي او مسلكي برخو د پرمختګ په موخه نويو علمي پروګرامونو ايجادول، چې عبارت دي له:

a) د ماسټرۍ پروګرامونه:

I) په مالي برخه کې د ماسټرۍ پروګرام (۱۴۰۴)

ii) په اداره او تجارت برخه کې د ماسټرۍ پروګرام (۱۴۰۴)

b) د نويو څانګو ايجاد:

I) د مارکېټنګ څانګه په اقتصاد پوهنځي کې (۱۴۰۴)

ii) د مديريت څانګه په اقتصاد پوهنځي کې (۱۴۰۳)

iii) د بينکنګ څانګه په اقتصاد پوهنځي کې (۱۰۱۴)

2. د بورسيو لاسته راوړل

3. د څېړنې معياري کول

4. د ښونيزو او ورکشاپونو دايرول

5. نندارتونونو ته پراختيا ورکول

6. د معلوماتي ټيکنالوژۍ سرچنې تشخيص او پراختيا ورکول

7. ويب پاڼې اپډيټ کول

8. د نويو علمي او څېړنيزو مجلو او ژونالونو تاسيس کول

9. علمي نصاب د مارکېټ او بازار غوښتنو سره برابرول

10. د کتابتونو معياري کول

11. د علمي تجربو د شریکولو په موخه د نورو پوهنتونو څخه د استادانو (Visiting Professors) رابلل

12. د علمي سیرونو پراختیا

### په علمي کادرکې ور او مسلکي استادانو زیاتول:

دا چې اقتصاد پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت قانون او مقرراتو سره سم په بېلا بېلو علمي، مسلکي او تخصصي برخو کې تولنې او سیمې ته وړ کادرونه روزي، نو تل هڅه کوي چې د مسلکي او وړ کادرونو په جذبولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

1. د لوړو زده کړو وزارت قانون د تقرر شرایطو په رڼا کې داسې اشخاص په کادر کې جذبول چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.

2. د مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره د پیاوړو او مناسبو اشخاصو ګمارل

3. په تقرر کې وړ دوکتور او ماستر تشخیصول او لومړیتوب ورکول

4. په کادر کې د شمولیت لپاره د شفافې پروسې رامنځته کول

5. د پوهنځي د لوړي سویې او لایقو استادانو او غړو ساتنه او ورتیاوو یې پوره ګټه اخستل

6. د موجوده علمي کادرونو ظرفیت ته وده او پراختیا ورکول

7. د زده کړیالانو او استادانو لپاره د علمي سفرونو او تبادلې د زمینې برابرول.

## د کادر غړو ظرفیت لوړول:

د پوهنتونونو، پوهنځیو او علمي موسساتو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري ځواک او کار کوونکي ګڼل کېږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرۍ چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره ببلابېلې مادي او معنوي سرچېنې رامنځته او ورڅخه موثره ګټه پورته کوي. پر همدې اساس، د اقتصاد پوهنځي اداره د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي:

1. د علمي کادر غړو ته په  دوکتورا پروګرامونو کې د زده کړو زمينه برابرول.
2. د شتو مسلکي او منلو کادرونو څخه د پوهنتون او پوهنځي په پرمختيايي او روزنيزو چارو کې ګټه پورته کول.
3. د پوهنځي پرسونل ته د نويو اړتياوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټريننګونو فرصتونونو برابرول.
4. د پوهنځي د منلو کادرونو، استادانو او غړو ساتنه.
5. اداري مديران په هغه مهارتو روزل او سنبالول چې د کارونو د ښه پرمخ بيولو ورتيا ترلاسه کړي.
6. په ښوونيزو مهارتونو، ورتياوو او نوې ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول.
7. د ستراتيژيک پلان او کړنلارو د پلي کيدو  په اړه د اداري پرسونل روزل.
8. د غوره زده کړې او ښوونې د زياتېدنې او وده ورکونې په موخه دلرې واټن د زده کړې لپاره اسانتياوو  برابرول.
9. تدريسي غړو ته د انګريزي او نورو بهرنيو ژبو د روزنې اسانتيا برابرول.
10. پوهو او وړ استادانو له پاره د علمي، څېړنيزو او عملي پروژو عملي کولو اسانتياوو برابرول.

## علمي څېړنه او پلان جوړونه:

په نړيواله کچه څېړنې او د څېړنو په پار پلان جوړونه د پوهنتونونو د ودې او پرمختګ په برخه کې خپل ځانګړی رول لوبوي. هره ټولنه او د ټولنې وګړي د ستونزو حل او پرمختګونو رامنځته کولو په غرض علمي څېړنې ترسره کوي. د څېړنو پواسطه پوهنتونونه په خپلو صادراتو او عوايدو کې زياتوالی راولي، چې په نتيجه کې يې هم ټولنه له ستونزو خلاصېږي او هم له نورې نړۍ سره د سيالۍ جوګه کېږي. بناً اقتصاد پوهنځي اداره هم په راتلونکو پنځو کلونو کې ژمن دی چې د علمي څېړنو د ترسره کولو او پراختيا لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

1. د پوهنځي او ځانګو په کچه د څېړنو يو موثر ميکانېزم رامنځته کول .
2. د څېړنيزو کړنو او پروژو د ترسره کولو له پاره د بودېجې او امکاناتو برابرول.
3. دنړيوالو پوهنتونونو سره اړيکو ټينګول او دڅېړنيزو پروګرامونو پرمخ بيولو له پاره  د مرستو جلبول.
4. د څېړنيزو پروژو د پايلو او لاسته راوړنو خپرول او د اړوند ادارو سره يې شريکول.

5. د پوهنتوني څېړنيزو مرکزونو له لوري د خصوصي سکتور دستونزو او اړتیاوو حل له پاره د څېړنیزو پروژو طرحه کول.
6. د څېړنې په برخه کې د علمي، اداري پرسونل او محصیلینو روزل.
7. د څېړنیزو پروګرامونو ترسره کولو له پاره استادان بهرنیو هیوادونو ته استول چې دعلمي، څېړنیزو او نظري کارونو ترسره کولو وړتیا ترلاسه او له غوره پایلو سره هېواد ته راستانه شي.

## د کریکولم پراختیا:

دا چې نړۍ او ټولنه په دوامداره توګه د بدلون او پرمختګ په حال کې ده، پوهنتونونه او تحصیلي موسسې اړ دي،چې د خپلو علمي پروګروامونو کریکولمونه د وخت، بازار او نورو ښکېلو خواوو د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د کریکولم د بیاکتنې په ترڅ کې د نصاب موضوعاتو کې وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه رامنځته کړي.  پوهنځۍ د خپلو اړوند علمي پروګرامونو د مثبت بدلون او د شرکاوو  غوښتنوته د ځواب ویلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د اقتصاد پوهنځي لپاره د ملي نصاب او مفرداتو انکشاف لپاره هلې ځلې.
2. د پوهنځي په کچه د کریکولم د کمېټې پیاوړي کول.
3. د کریکولم کمېټې د غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوې کړنلارې او پالیسی تهیه کول .
4. د پوهنځي او د څانګو په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کریکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو تریننګونو چمتو کول.
5. د کرېکولم په بیاکتنه او پراختیا کې  د متخصصو اشخاصو، فارغانو او کارګمارنې مراجعو سره مشورې کول.
6. له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیا سمونه کې ملتیا.
7. له نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو خپرونو او کتابونو ترلاسه کول.
8. له کریکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه.
9. له ټاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
10. د کریکولم د پلي کېدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي پروګرامونو څخه راپورونه راټولول.
11. د کریکولم او مفرداتو د تطبیق لپاره د زمېنې برابرول.

## د کېفیت تضمین او اعتبار ورکونه:

پوهنتونونه د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي. نومورې چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا دبیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کېږي چې په پایله کې یې اړوند پوهنتونونو خدمات د اعتبار بېلابېلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او غوره والی سبب ګرځي. د اقتصاد پوهنځي اداره په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کېفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د ملي او بین المللي تضمینونکو ادارو څخه د کېفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل.
2. په ملي او بین المللي کچه د پوهنتون او پوهنځي د خدماتو کېفیت او درجې لوړول.
3. د کېفیت د تضمین او لوړولو په موخه د مسلکي کاري ټیم رامنځته کول.
4. په ټولنه کې د پوهنځي د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنېزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخستل.
5. په پوهنځي کې د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول.
6. د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول.
7. د کېفیت د ښه والي په موخه د نورو پوهنتونونو او تحصیلي موسسو سره همغږي.
8. په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول.
9. د پوهنځي د ستراتېژیکو موخو د تحقق لپاره له اړوندو څانګو سره همغږي.
10. د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او عامول.
11. محصیلنو، اداري او علمي کادر غړیو ته کېفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول.

## د ښونیزو موادو چمتو والی:

نن ورځ د نړۍ پوهنتونونه په دې هڅه کې دي چې د باور ترلاسه کولو لپاره خپلو علمي پروګرامونو د کریکولمونو د سمون وروسته اړونده درسي مواد د نویو میتودونو په پام کې نیولو سره چمتو کړي، چې د مناسبو ښوونیزو موادو په تدریس سره وکولای شي چې له یوې خوا د وخت شرایط او بدلونونه په پام کې ونیسي او له بلې خوا د خپلو اړوند ښکېلو

خواوو غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي چې پايله به يې د مربوطه پوهنتون د لوړې درجې او باور تر لاس کول وي. اقتصاد پوهنځی په راتلونکو پنځه کلونو کې د ښه باور د ترلاسه کولو په موخه د خپلو علمي پروګرامونو د ښوونيزو موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

1. د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کريکولم کمېټي چارو ته پراختيا ورکول
2. د کرېکولم کمېټې کړنې د نويو مېتودونو سره همغږې کول
3. په څانګو کې د نصاب او کريکولم کمېټو چارو ته ځانګړې پاملرنه او پراختيا ورکول
4. د درسی موادو د پياوړتيا په موخه د علمي کادر غړيو د تاليفاتو چارو ته خاصه توجه کول په دې برخه کې د هغوی هڅونه
5. د پوهنځي د علمي کادر غړو لپاره د هېواد په داخل او له هېوادڅخه بهر د روزنيزو پروګرامونو برابرول

## د برېښنايی زده کړو پروګرامونه:

دا چې په نړيواله کچه پوهنتونونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غير حضوري زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پوښښ ته پراختيا ورکوي ، دې موخې ته د رسېدو په پار پوهنتونونه په خپلو خدماتو کې د ټکنالوژۍ ونډه زياته او موثره ګټه ترې پورته کوي. د علمي او څېړنيزو بهيرونو د پياوړتيا او موثريت لپاره پوهنتونونه خپلو اړوند ښکېلو خواوو ته د برېښنايي اسانتياوو په چمتوکولو سره هر اړخيز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې پوهنتونونه اړ دي چې د انلاين کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاين سرچېنو اسانتياوې رامنځته او ګټه ترې پورته کړي. د نومورې چارې د ښه مديريت په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د برېښنايي زده کړو کمېټې ته پراختيا ورکول
2. د برېښنايي زده کړو په اړه علمي کادر غړيو ته د ورکشاپونو برابرول
3. په ټولو څانګو کې د برېښنايي زده کړو عامول
4. د برېښنايي زده کړو د پروګرامونو پلي کېدو څخه بشپړه څارنه
5. د برېښنايي زده کړو د ښه ترسراوي لپاره د يوې ځانګړې پاليسۍ(کړنلارې) رامنځته کول
6. د ټولو محصيلينو ته د برېښنايي زده کړو په هکله معالومات ورکول

## د محصلینو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پراختیا:

پوهنتونونه هڅه کوي تل په خپلو علمي او خدماتي چارو کې محصلینو ته د پام وړ سهولتونه برابر او غوره پایلو په لرلو سره محصلین وروزي چې پوهنتونونه د هېواد او په نړیواله کچه د محصیلینو توجه او رضایت خپل کړي. د خدماتو او سهولتونو په وړاندې کولو سره پوهنتونونه غواړي چې له یو پلوه په علمي ټولني کې خپل حیثیت لوړ کړي او له بل پلوه له همدې لارې مالي او مادي امکانات پراخه کړي. پوهنځی د غوره خدماتو او اسانتیاوو د پیاوړي کولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. محصیلینو ته د علمي سفرونو زمینه برابرول
2. سپورتي اسانتیاوې برابرول
3. محصلینو ته د زده کړو د برابرولو ترڅنګ، د لازمو مهارتونو چمتووالی
4. د وېبسایټ له لارې محصلینو ته پوره معالومات په واک کې ورکول
5. د محصلینو وړاندېزونو او شکایاتو ته لاسرسی
6. د علمي او عملي زده کړو په برخه کې محصلینو لپاره اړوندو سکتورونو سره د توامیتونو رامنځته کول
7. محصلینو ته د عملي پیاوړتیا په موخه د بېلابېلو تمثیلي پروګرامونو او سمینارونو چمتو کول
8. د پوهنځي د امکاناتو په پام نیولو سره محصلینو (ښځینه او نارینه) لپاره ټرانسپورټ ته پراختیا ورکول
9. د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه کتابتوني سهولتونو پراختیا ورکول
10. محصلینو ته د بنې زده کړې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول
11. په نړیوالو علمي سیالیو کې محصیلینو ته د برخې اخستنې زمینه برابرول

## لوړو زده کړو ته لاسرسی:

زده کړې د وګړو یو له اساسي حقوقو څخه ګڼل کېږي، چې له نېکه مرغه د هېواد د اساسي قانون له مخې د لسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې د دولت لخوا په وړیا توګه د قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره د پوهنتونونو لخوا وړاندې کېږي. عامه وګړي د لسانس پروګرام زده کړو څخه پورته لوړې زده کړې د یو لړ لګښتونو په ورکولو سره په هېواد او له هېواد څخه بهر ترسره کولی شي. اقتصاد پوهنځی لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه ګڼ شمېر

علمي پروګرامونه په بېلا بېلو برخو او وختونو (سهار او له وخته وروسته) کې پرمخ بیايي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاسرسي په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د اقتصاد په برخه کې لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخیز معالومات وړاندې کول.
2. د کانکور له لارې په شفافه توګه زده کړو ته د لاسرسي زمینه برابرول.
3. د وړتیا او ظرفیت په پام کې نیولو سره ببلاببلو علمي پروګرامونه ته د محصیلینو ورپېژندل
4. له هر ډول توپیر پرته هېوادوالو ته په مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې برابرول
5. د وخت او بازار د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د نویو علمي پروګرامونو ایجادول

## الف) د پوهنځي د رامنځته کېدو لاملونه

د اقتصاد پوهنځی د لاندې لاملونو په نظر کې نیولو سره رامنځته شوی دی:

1. د ټولنې د موجوده حالاتو او شرایطو په نظر کې نیولو سره، د وخت د غوښتنو مطابق د هېواد په مالي، اداري، بانکداری او مدیریت په برخو کې د تحصیلاتو زمینه برابرول.
2. محصلینو وړتیا زیاتول ترڅو وتوانیږي چې د ګران هیواد افغانستان ورځنۍټولنېزې اقتصادي ستونزې تحلیل او د حل مناسبه لار ورته ومومي.
3. سوداګری، ملي خدمتونو او ښوونیزو ډګرونوکې د کارګمارنې لپاره محصلین په مختلفو اړینو مهارتونو سنبالول.
4. د مسلکي لوړو زده کړو څخه د محرومو دولتي او نا دولتي مامورینو او کارمندانو مسلکي پوهې ته وده ورکول.
5. د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په موجوده اداراتو کي د سالم او اصولي مدیریت رامنځته کول.
6. محصلینوته زمینه برابرول ترڅوپه نړیواله کچه داقتصادي علوموپه ډګرکې مخکښ رول ولوبوي.
7. د محصلینوپوهاوي زیاتول څووکولای شي دافغانستان اقتصادمختلف سیاسي او ټولنېز اړخونه تحلیل او وخیږي، او اغیزمنو اقتصادي او مالي سیاستونو پرجوړولو لاس په کار شي.

التقوی دلوړوزده کړومؤسسې داقتصاد پوهنځی دهیواد اونړیوال مارکېټ دغوښتنې او اړتیاسره سم دوه څانګې لري

۱ :مالي څانګه

۲: اداري څانګه

یادې څانګې د تحصیلي دورې په دریم سمستر کې جلاکېږي. دلوړوزده کړو وزارت دقانون له مخې یو محصل په زمان واحد کې یوائې یو له پورتنیو څانګو څخه تعقیب او زده کړو ته په کې دوام ورکولای شي.

## ب) د استادانو شمېر

د اقتصاد پوهنځی نه یوازې دا چې د هېواد بچیانو ته د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو زمینه او امکانات مساعد کړي دي، بلکې د یو شمېر روزل شوو او پر شرایطو برابر علمي کادرونو ته یې د کار کولو فرصت او موقع هم ورکړې ده، ترڅو د ټولو اداري او اکاډمیکو اصولو په نظر کې نیولو سره په ارامه فضاء کې کار وکړي. یاد پوهنځی اوسمهال (۳۰) تنه دایمي او قراردادي استادان لري چې په لاندې جدول کې ښودل شوي دي.

## داقتصاد پوهنځي د (۱۴۰۰) تحصیلي کال برحاله د استادانو شمېرنه ( احصایه)

| ګڼه | پوهنځي | څانګې | بالمقطع | | | | | | | دایمي | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | | | ښځینه | | | ټول | نارینه | | | ټول |
| | | | داکتر | ماستر | لیسانس | داکتر | ماستر | لیسانس | | داکتر | ماستر | لیسانس | |
| ١ | اقتصاد | اداره او تجارت څانګه | | 3 | | | | | 3 | | 2 | 2 | 4 |
| | | مالي څانګه | | 1 | | | | | 2 | | 7 | 4 | 11 |
| څانګو مجموعه | | | | 4 | | | | | 5 | | 9 | 6 | 15 |
| عمومی مجموعه | | | 20 | | | | | | | | | | |

## د اقتصاد پوهنځي د (۱۴۰۰) تحصیلي کال برحاله د اداري او خدماتي کارکوونکو شمېرنه (احصا ییه)

| ګڼه | څانګې | اداري کارکوونکي (مامور) | | | خدماتي کارکوونکي | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | نارینه | ښځینه | ټول | نارینه | ښځینه | ټول |
| ۱ | اداره او تجارت څانګه | 6 | | | 4 | | |
| ۲ | مالي څانګه | 5 | | | 6 | | |
| | څانګو مجموعه | 11 | | 11 | 10 | | 10 |
| | عمومي مجموعه | 21 | | | | | |

## داقتصاد پوهنځي د (۱۴۰۰) تحصیلي کال برحاله د محصلینو شمېرنه ( احصاییه)

| ګڼه | څانګې | نارینه | ښځینه | ټول |
|---|---|---|---|---|
| 1 | اداره او تجارت څانګه | 620 | 14 | 634 |
| 2 | مالي څانګه | 570 | 10 | 580 |
| | ټول | 1190 | 34 | 1224 |

مخکې مو یادونه وکړه چې په اقتصاد پوهنځي کې دوه ډوله استادان دنده اجراء کوي چې یو ډول (ډېر شمېر)یې د نوموړي پوهنځي د علمي کادر دایمي غړي دي او ددغه پوهنځي د رسمي اعضاوو په نامه سره یادیږي او بل ډول (کم شمېر) یې حق الزحمه استادان دي، کوم چې د همېشنۍ همکارۍ له مخېله دې پوهنځي سره د مختلفو مضامینو په تدریس کې بوخت دي، چې اکثره یې د ننګرهار پوهنتون د علمي کادرغړي دي.

ددې پوهنځي د استادانو د علمي ظرفیت د لوړولو په منظور، په نظر کې ده چې د راتلونکو پنځو کلونو په ترڅ کې استادانو ته د فیلوشیپ او سکالرشیپ فرصتونو څخه په استفادې، د لوړو تحصیلاتو د استحصالزمینه او د علمي تجاربو د لازیاتو لوړولو په منظور، نور امکانات هم برابر شي.

د انګلېسي ژبې پیاوړتیا، یو له مهمواهدافو څخه ګڼل کېږېچې د علمي کادر غړو د مسلکي انګلېسي د پیاوړتیا په خاطر یوه دېهرني ژبې د پیاوړتیا دوره بشپړه کړې ده او په راتلونکي کې په پام کې ده چې دې برخه کې نور ګامونه هم اوچت او د انګلېسي ژبې د پیاوړتیا پروګرام د پوهنځي د پروګرام یوه برخه وګرځول شي.

## ج) درسي میتودونه

د اقتصاد پوهنځي د خپلو فعالیتونو له پیل څخه کریډیټ سیستم تطبیق کړی دیچې په هغه کې انټرنشیپ او (Capstone) یعني د حضوري ساعتونو ترڅنګ عملي کار، صنفي پروژې، کتابتون ته مراجعه، کورنۍ دندې اجرا کول، پرکټیک او له اداراتو څخه کتنه شامله ده. نظر هغه امکاناتو ته په کتو سره چې یاد پوهنځی یې په لاس کې لري، استادان د مختلفو میتودونو او روشونو څخه استفاده کوي ترڅو خپلو ګرانو هیوادوالو ته د لاښه خدمت مصدر وګرځي لکېپه لاندې ډول د یو څو څخه یې د نمونې په توګه یادونه کوو.

1. پاور پاینټ او نوي ټکنالوژۍ څخه د لکچرونو په برابرولو کې کار اخیستل ؛

2. د سپینې تختې ، مارکر او ددرسي کتابونو څخه په ګډه کار اخیستل ؛

3. د محصلینو د استعداد د پراختیا په منظور هغوي ته په نوي او زاړه درس کې ونډه او د نظر وروکولو پوره وخت ورکول

4.محصلینو ته د پوښتنې پوره وخت ورکول ؛

5. سیمنارونه، ورکشاپونه او کورنۍ وظیفي ورکول او ارایه کول ؛

## د) لکچر میتود ؛

1. محصل محوري میتود (ګروپي کارونه، صنفي بحثونه پرمخ بیول، رول لوبول او ځاني مطالعه) ؛

2. ډله ییز میتود ؛

3. د سوال او ځواب میتود ؛

او داسې نور ؛

## و) درسي سیستم او تحصیلي نصاب:

د اقتصاد پوهنځي تحصیلي نصاب له یوې خوا د ټولنې د موجوده شرایطو او حالاتو په نظر کې نیولو سره او له بلې خوا په اړوندو نهادونو کې د کار بازار په نظر کې نیولوسره،په ملي او نړیوال معیارسنبال چمتو شویې د لوړو زده کړو محترم وزارت له اصولو سره سمو درسي کریډېټ سیستم لري.یاد پوهنځی همېشه هڅه کوي چې خپل تحصیلي نصاب د وخت د اړتیاوو په اساس لا پیاوړي کړي. دغه پوهنځي د هغه درسي مفرداتو څخه په خپل روان درسي بهیر کې استفاده کوي ، چې د افغانستان په نږدې ټولو اقتصاد پوهنځیو کې تدریس کیږي.

## ه) تجهیزات او وسایل:

په ټولو درسي خونو کې استادان سپینې تختې، مارکر، او همدارنګه ځینې محصلین زمونږ د انټرنټ د (Wi-Fi) سیستم څخه ګټه اخلي. دلته ډېر غوره، نوي او علمي درسي کتابونه زمونږ په واک کې راکړل شوي دي، له هغو څخه ددرسي موادو په چمتو کولو کې او په درسي خونو کې به دLCD څخه ګران استادان د تدریس پر مهال استفاده کوي.

## ی) د ستر اتیژیک پلان د پروسې قاعدې او طریقې:

د اقتصاد پوهنځی د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې په چوکاټ کې یو فعاله پوهنځی دی چې د غوره علمي او تحصیلي برنامو په درلودلو سره یې نه یوازې دا چې د دې مؤسسې د رهبرۍ پام ځانته اړولی دی، بلکه په ټوله کې د تعلیم او تحصیل د ټولو مینه

والو د توجه وړ ګرځیدلی دی چې له نېکه مرغه يې ورځ تر بلې د محصلينو په شمېر کې زياتوالی راغلی. د اقتصاد پوهنځي د خپل تدريسي، علمي او تحصيلي رسالت په نظر کې نيولو سره، د لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسساتو رياست په رهبری، د التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې د مشرتابه په لارښوونه، د نوموړي پوهنځي د ستراتيژيک پلان د ترتيب او تنظيم کمېټې او همدارنګه د ياد پوهنځي د دواړو څانګو (مالي څانګې او اداري څانګې) په ګډې همکارۍ سره، د دې پنځه کلن ستراتيژيک پلان د ترتيب او تنظيم چارې د پوهنځي د رئيس په مشرۍ پيل او دا دی اوس يې په منظمه توګه تکميل کړ چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د تطبيق وړ دی.

## مخکښې ستر اتيژي

### 1. د معياري لوړو زده کړو چمتو کول

اقتصاد پوهنځي په تيرو پنځو کلونو کې خپلو ګرانو محصلينو ته د خپل وس او توان مطابق لوړې زده کړې چمتو کړی وي، چې تر دا مهاله يې ګڼ شمېر محصلين په مالي او اداري برخه کې د ټولنې د خدمت لپاره وړاندي کړي دي.

### 2. تحقيق او ايجاد

اقتصاد پوهنځي په څېړنه کې د څېړنيزو فعاليتونو له لارې د ټولنې پرمختګ ته دکار کولو په موخه د څېړنې کمېټه رامنځ ته کړې وه، چې په اساس يې په منظمه توګه څېړنيزو فعاليتونو ته رسېدنه کېدله.

### 3. د محصلينو جذب او ظرفيت

اقتصاد پوهنځي په تيرو کلونو کې دواړه نارينه او ښځينه محصلان په شفاف ډول د کانکور له لارې په داوړو (مالي او اداري)څانګو کې جذب کړي دي او ددوي د ظرفيت لوړونې په برخه کې مختلف سيمينارونه او ورکشاپونه په لار اچولي وه، لکه جنډر، د حافظې تقويت اسباب او لارې چارې، د وخت مديريت، الکترونيکي حکومتولي، کارموندنه، د څېړنو ميتودولوژي او داسې نور.

### 4. د با استعداده علمي کادرګمارنه او ساتنه

د دې لپاره چې تدريسي بهير په غوره شکل ترسره شوی وی، نو په همدی موخه اقتصاد پوهنځي د کادرونو په جذب کې ډير دقت کړې چې اکثره تدريسي چارې يې د ماسترانو او دوکتورا لرونکو استاد لخو پر مخ تللې، او هم يې د استادانو په ساتنه کې پوره همکاري کړي ده.

**5. د ټولنې پرمختګ**

څرنګه چې د هرې ټولنې پرمختګ په تعليم او تربيه کې دې، نو په همدې خاطر اقتصاد پوهنځي په تېرو کلونو کې ټولنې د مارکېټ او ټولنې د غوښتنو مطابق کادر ور غړې وراندې کړي دي، چې د ټولنې په پرمختګ کې يې پوره ونډه اخستې ده.

## لرليد (vision)

اقتصاد پوهنځۍ غواړي چې د مسلکي استادانو پر مټ چې په تدريس، څېړنه او خدماتو کې ځانګړی ورتيا لري د اقتصاد کاروباري مديريت او څيړنې په برخه کې د معياري لوړو زده کړو پوهنځي په تو ګه وپيژندل شي .

## ماموېت (Mission)

اقتصاد پوهنځۍ غواړي چې خپل محصلين د شته تحصيلي نصاب، څيړنو او عملي زده کړو پر مټ په مديريتي او تشبسي ورتياوو سمبال، ټولنې ته د خدمت او پرمختګ په موخه دولتي او خصوصي سکتور ته د رهبرۍ دندو پرمخ وړلو لپاره وړاندې کړي.

## ارزښتونه (Values)

ټولنې ته د لوړ او وړ کېفيت لرونکو بشري ظرفيتونو وراندې کول.

ملي او نړيوالو ارزښتونو ته د ژمن بشري ظرفيتونو وړاندې کول.

ټولنې او خلکو ته د صادقو، په وطن مئينو، د خدمت هيله مند کادرونو معرفي کول.

د تدريس، څېړنې او عملي کار په بهير کې د لوړو زده کړو مؤسسو د قوانينو مقررو او لوايحو تطبيقول.

د کار او مارکيټ په نظر کې نيولو سره د بشري ظرفيتونو روزل.

## د ستر اتېژيک پلان پنځه ګوني برخې

اقتصاد پوهنځۍ غواړي چې په راتلونکي کې د معلوماتي ټکنالوژۍ، څېړنه، عوايدو، په ټولنه کې ونډه او نړيوالو فعاليتونو په برخه کې لاندې کړنې ترسره کړي:

## لومړی مبحث: معلوماتي ټکنالوژي

دا چې نن ورځ معلوماتي ټکنالوژي په ادارتو کې د چارو د سرعت، شفافیت او مؤثریت سبب ګرځېدلی نو دا یو لازمې امر دی ترڅو په تحصیلي بنسټونو کې ترې استفاده وشي پس اقتصاد پوهنځی هم غواړي چې په راتلوونکي پنځو کلونو کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

- **د معلوماتي ټکنالوژۍ زېربنا سمبالتیا او بشپړول:**

لکه څنګه چې معلوماتي تکنالوژي د تدریس مهمه برخه ده، نو هره تحصیلي مؤسسه باید خپله د معلوماتي تکنالوژۍ برخه د نړیوالو معیارونو سره سم سمبال او ګټې اخستنې ته وسپاري، د معلوماتي ټکنالوژۍ زېربنا سمبالول او وده ورکول اقتصاد پوهنځی د لومړیتوبونو څخه دي او په راتلونکو پنځو کلونو کې به مؤسسه د یو عصري او په بشپړ ډول سمبال معلوماتي تکنالوژۍ لرونکې وي.

- **برېښنایي زده کړې**

اقتصاد پوهنځی د برېښنایي زده کړو د ښه سمبالښت په پار لاندې موخې په نظر کې لري:

1. د برېښنایي زده کړو اړوند استادانو او محصلانو ته د ظرفیت لوړونې سمینارونو دائیرول
2. د برېښنایي زده کړو (E-Learning) برنامو همغږي کول
3. د استادانو ویډیو یې لکچرو د ټولنیزو رسنیو له لارې نشرول
4. د برېښنایي زده کړو اړوند د پلانونو او راپورونو ترتیبول
5. اضطراري حالاتو کې د الکترونیکي زده کړو لکه smartcube ERP نړیوال ډیټابیس ، د (zoom) اپلیکیشن، youtube چینل، whats App، زمینه مساعدول او په راتلونکي کې دې برخې ته لا پراختیا ورکول.

- **برېښنایي کتابتون**

اقتصاد پوهنځی دې ته ژمنه ده چې په راتلوونکي کې د فزیکي کتابتون ترڅنګ برېښنایي کتابتون ته هم زمینه مساعده کړي، ترڅو علمي کادر غړي او محصلان وکولای شي چې پخپلو درسي پروګرامونو او څېړنو کې ترې استفاده وکړي.

- **د معیاري ډیټابیس سیستم کارونه:**

اقتصاد پوهنځی د خپلو اداري او تعلیمي برخو لپاره یو معیاري ډیټابیس لري چې پواسطه یې کولای شي د ښه مدیریت او څارنې لپاره خپل ټول فعالیتونه په یو سیستم کې راټول کړي، نوموړی ډیټا بیس چې مختلفې برخې لري لکه د محصلینو مکمل ریکارډ، د اول سمستر څخه تر اتم سمستره پورې د محصلینو د ازموینو د نومرو ساتنه، مالي برخه چې هم پکې د محصلینو فیس او هم د اداري لګښتونه ریکارډ کېږي. همدارنګه به د محصلانولپاره خپل خپل اکاونټونه جوړ شی چې آنلاین لاسرسی به ورته لری او هم به د استادانو لپاره د آنلاین حاضرۍ سیستم ولری.

- **په نوی او عصری بنه ویبسایټ جوړول:**

که څه هم په اوسنی وخت کې مؤسسه خپل ویبسایټ لری خو د اقتصاد پوهنځی رهبری غواړی لا پرمختللی او په عصری بنه ویبسایټ ډیزاین او په لاره واچوی ترڅو وکولای شي مینوالو ته د اقتصاد پوهنځی او د اقتصاد پوهنځی د پروګرامونو په هکله غوره او د قیق معلومات وړاندې کړي.

**دوهم مبحث: څېړنه**

اقتصاد پوهنځی د څېړنې په برخه کې د ټولنې ایجاباتو او غوښتنو ته په کتو پر ګڼو علمي او عملي موضوعاتو څېړنې کړې او لا هم دغه بهیر جریان لري.

- **د څېړنې کمیټې له لارې د ټولنې د شته اقتصادي ناخوالو څېړل او حل لارې لټول**

د اقتصاد پوهنځی غواړی چې د خپلو څېړنو د لا پیاوړتیا او پرمختګ لپاره څېړنیز بهیر ته لا وده ورکړي په کوم کې به چې د استاذانو او محصلانو په ګډ ډول هر اړخیزې څېړنې ترسره کړي، ددې سره به د زیاتو کمپنیو، ادارو او موسساتو د پروژو د تطبیق او یا تولیداتو د جوړولو لپاره ازمویل شوي نتایج موجود وي او هم به د پوهنځي لپاره یوه عایداتي سرچینه چې لاندې برخې په کې شاملې دي:

1. د څېړنو په برخه کې د اړتیا وړ ساحو مشخص کول.
2. د څېړنیزو موضوعاتو انسجام او په ملي او نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې د څېړنو خپرول
3. د څېړنیزې پروسې څخه نظارت
4. د څېړنو پایلو شریکول د اړونده اداراتو سره
5. د څېړنو په برخه کې د سمینارونو، ورکشاپونو او کورسونو دائیرول
6. د پوهنځي ارتباط د نور تحصیلي بنسټونو، تصدیو، نورو څېړنیزو ادارو او څېړونکو سره
7. نړیوالو معتبرو ژورنالونو ته د څېړونکو د لاس رسی زمینه برابرول

- **د علمي څېړنو کمیټې**

اقتصاد پوهنځی د څېړنو د لاپیاوړتیا او پرمختګ لپاره د پوهنځي په کچه د علمي څېړنو کمیته ایجاد کړې چې نوموړې کمیته د اړونده علمي شورا ګانو لخوا د تائید شوي تشکیلاتو لرونکې ده چې عمده دندې په لاندې ډول دي:

1. د پوهنځي په همکاری د څېړنو اړوند علمي سمینارونو او ورکشاپونو دائیرول.
2. د څېړنیزو پروپوزلونو (د څېړنې پلانونو) د پروسې تصحیح او نظارت
3. څېړنو او د کمیټې د پلانونو او راپورونو ترتیب او تنظیم
4. د څېړنې د فرهنګ دود کول او دې برخې ته د استادانو او محصلانو هڅونه.
5. د څېړنیزو آثارو اومقالو مطالعه، برسي او تصحیح
6. د ټولنې د ستونزو د حل په موخه د علمي څېړونو ترسره کول او په ملي او نړیوالو ژورنالونو کې یې خپرول

## درېیم مبحث: عوایـد

هره اداره د خپلو چارو ترسره کولو لپاره په کافي اندازه بودیجې ته اړتیا لري، چې د بودیجې د ښه تنظیم او انکشاف لپاره عوایدو ته اړتیا ده، ترڅو پوهنځی وکولای شي چې خپلې تدریسي، اداري او څېړنیزې چارې پرته له خنډ او ځنډ سره پرمخ یوسي. د اقتصاد پوهنځی د عوایدو کانالونو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

- **د محصلانو فیسونه**

دا چې خصوصي تحصیلي مؤسساتو عواید تر ډېره د محصلانو په فیس باندې ولاړه ده نو التقوی د لوړو زده کړو مؤسسې اقتصاد پوهنځی د ټولنې اقتصادي وضعیت په درک د خپلو تحصیلي خدماتو په بدل کې یوه اندازه فیس پر محصلانو باندې تعین کړی چې په قسطوار شکل ترې اخیستل کېږي.

- **د محصلانو په کمیت کې زیاتوالی**

اقتصاد پوهنځی د مناسب فیس په درلودلو د خیریه بنسټونو او مدني ټولنو سره د هوکړه لیکونو مناسب چاپیریال په درلودلو، د مجربو استاذانو، معیاري تحصیلي خدماتو، او کڼ شمېر نورو سهولتونو په درلودلو سره کولای شي د محصلانو د کمیت په زیاتوالي کې مهم رول ولوبوي.

- **د ډونرانو د مرستو جلب او جذب**

په دې غیر یقیني اقتصادي شرایطو کې چې مونږ په کې شتون لرو او هغه ننګونې چې د ګلوبلایزیشن یا نړیوال توب سره رامنځته شوی اقتصاد پوهنځی باید په جدی توګه په بازار کې د پاتې کیدلو لپاره متبادلې لارې ولټوي دا چې اوس د التقوی د لوړو زد کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځی ټول عواید د محصیلینو د فیس له لارې چمتو کېږي، او د محصلانو د شمېر کمښت، په مارکیټ کې سالم رقابت او انفلاسیون په نظر کې نیولو سره نوموړی عایدات دومره نه دی چې د اکادمیکې موسسې د بقا او تعلیمي اسانتیاوو د برابرولو لپاره بسنه وکړ، او زده کوونکي نشی کولای چې د اضافي آسانتیاوو لپاره نور تادیات هم وکړی ځکه د محصلانو د زیات فیس ورکولو ظرفیت خپل اخری حد ته رسیدلی دی. نو ددې لپاره، د اقتصاد پوهنځی غواړي چې د عوایدو له نورو سرچینو څخه د زده کونکو عوایدو سربیره د عاید سرچینې چمتو کړي. د راتلونکو پنځو کلونو لپاره، د اقتصاد پوهنځی پلان لري چې له لاندې سرچینو څخه خپل عاید ډېر کړي:

- **د مختلفو ترینګونو چوپړتیاوو وړاندې کول**

په دې کې لنډ کورسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه او کنفرانسونه شامل دي. دغه برخه اکثرا د دوامداره تعلیمي او مسلکي پرمختیایي واحدونو له لارې اداره کېږي. عامه او خصوصي سیکټورونه او موسسات اکثرا په ځانګړو سیمو کې د خپلو کارکوونکو لپاره مسلکي پرمختګ ته اړتیا لري؛ پوهنتونونه کولی شي دې اړتیا ته ځواب ووایي او له دی لاری اضافی عایدات تولید کړي. اقتصاد پوهنځی چې په خپل ترکیب کې وړ او مسلکي کدرونه لري او کولای شي چې په یاده برخه کې په وخت او غوره چوپړتیاوې وړاندې کړي.

- **د دونرانو څخه کومکونه ترلاسه کول/جلبول په مختلفو برخو کې:**

زیات شمیر دونران یا بسپنه ورکوونکي اداری غواړي د افغانانو سره د لوړو زده کړو او مسلکي زده کړو د فرصتونو برارولو کې مرسته وکړي تر څو دوی په هغه پوهه او مهارتونو چې دوی ورته اړتیا لري سمبال کړي. یعنی پدی معنی چې د کاري ځواک سره مرسته کوي.

څرنګه چې د اقتصاد پوهنځی اوس هم یو قرارداد په یاده برخه کې لري، نو کوشش به وکړو چې د نورو ډونرانو سره هم خپلې اړیکې پیاوړی کړو او په هغه شکل اسانتیاوې برابرې کړو چې دوی یې غوارې تر څو وکولای شو لا زیات ډونران جلب او وهڅوو تر څو اقتصاد پوهنځي ته لا زیات تعلیمي فنډونه ورکړي او له دې لارې دخپل عایدات د نوو سرچینو څخه ترلاسه کړو.

## څلورم مبحث: نړیوال فعالیتونه

لکه څرنګه چې نن ورځ د معاصرو علومو او ټکنالوژۍ په رامنځته کېدو سره نړۍ د یوه کلي په توګه پېژندل شوې، نو موږ د ملي اړیکو ترڅنګ نړیوالو اړیکو او فعالیتونو ته هم اړتیا لرو چې د نړۍ د معتبرو تحصیلي بنسټونو سره روابطو ټینګ کړو ترڅو د هغوی د تجاربو، پرمختګونو، امکاناتو او داسې نورو څخه استفاده وکړو او خپلې تجربې او امکانات له هغوی سره شریک کړو، اقتصاد پوهنځی غواړي چې په راتلونکي کې لاندې نړیوال فعالیتونه ترسره کړي:

- **د تواميتونو رامنځته کول**

اقتصاد پوهنځی د تواميتونو او هوکړه لیکونو د حفظ او پراختیا لپاره لاندې اقدامات ترسره کوي:

- اقتصاد پوهنځی د نړیوالو اړیکو پراختیا او د تواميتونو د ایجاد او انکشاف لپاره د بهرنیو اړیکو کمېټه ایجاد کړی چې په رأس کې یې د پوهنتون رئیس قرار لري.
- د اقتصاد پوهنځي رئیس د تواميتونو د رامنځته کېدو په برخه کې ټول امکانات او فرصتونه له منسوبینو سره شریک کوي تر څو په ګډه د یو واحد تصمیم په اساس تواميتونو رامنځته شي.
- د اقتصاد پوهنځی رئیس د تواميتونو د اغېزمنتوب تر څنګ له ایجاباتو او شرایطو سره سم د تواميتونو له تطبیق څخه د نظارت مسؤلیت هم پر غاړه لري.

**په نړیوالو سیمینارونو، کانفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون**

اقتصاد پوهنځی دې ته ژمن دی چې د خپلو علمي کادر غړو، اداري کارکوونکو او محصلانو د ظرفیت لوړنې لپاره هغوی حضوري او انلاین سیمینارونو، کانفرانسونو او ورکشاپونو ته معرفي کړي ترڅو د نړیوالو تجاربو څخه برخمن شي.

**د بهرنیو علمي کادرونو څخه استفاده**

پوهنځی په راتلونکي کې پدې اړوند کار کوي ترڅو وکولای شي چې په انلاین شکل د نړۍ یا سیمې هیوادونو علمي کادر غړو څخه په مختلفو برخو کې لکه تدریس، ظرفیت لوړونې او څېړنې په برخه کې استفاده وکړي.

## پنځم مبحث: په ټولنه کې ونډه اخیستل

ټول تحصیلي نهادونه چې تحصیلي خدمات وړاندې کوي د ټولنې د پرمختګ لپاره دي که هغه تدریس وي، که څېړنه وي، که د ظرفیت لوړونې پروګرامونه وي، که تحصیلي نصاب او یا هم نور فعالیتونه وي، اقتصاد پوهنځی د ټولنې په مهمو مسایلو او ستونزو د حل لپاره څېړنې وړاندې کوي او علمي مقالې نشروي، ددې ترڅنګ په ټولنه کې د کار د بازار په مقتضی تحصیلي نصاب کې وخت په وخت تعدیلات راولي او د ټولنې د پرمختګ لپاره ځینې نور اړین فعالیتونه ترسره کوي. لکه: د ظرفیت لوړونې او عامه پوهاوی سیمینارونه، ورشکاپونه، کانفرانسونه، په رسنیزو بحثونو کې ګډون، سپورتي او فرهنګي برنامې، د تاریخي او ملي ورځو لمانځنه، خیریه فعالیتونه او داسې نورو برخو کې فعاله ونډه لري.

- **فرهنګي برنامې**

دا چې د فرهنګي فعالیتونه له یوې خوا د محصلانو علمي سویې او جرئت په لوړولو کې هم رول لري بله بلې خوا محصلان کولای شي چې د هیواد ملي او دیني ورځو، تاریخ، مشهورو اشخاص، فرهنګ، دود، او داسې نورو په اړوند معلوماتو ترلاسه کوي، نو اقتصاد پوهنځی د فرهنګي چارو پرمخ وړلو لپاره د اقتصاد پوهنځی په کچه فرهنګي کمیته لري چې په تشکیل کې یې د اقتصاد پوهنځی علمي کادر غړي، محصلان او د نشراتو مدیریت څخه یوتن غړیتوب لري چې مختلف فرهنګي فعالیتونه ترسره کوي، مؤسسه ددې چارو د لا انکشاف لپاره غواړي چې د پوهنځیو په کچه هم یادې کمیټې ایجاد کړي ترڅو فرهنګي فعالیتونه په ښه شکل باندې مخ ته لاړ شي.

- **سپورټي برنامې**

دا چې له یوې خوا ورزش د صحت ضامن دی او له بلې خوا د محصلانو په روح و روان باندې مثبت تأثیرات لري نو اقتصاد پوهنځی هم د کرکټ او ولیبال فعال تیمونه لري چې هر کال خپل منځي ټورنمنټونه ترسره کوي او ددې ترڅنګ بیروني لوبو او ټورنمنټونو کې هم ونډه اخلي، مؤسسه دې ته ژمنه ده چې په راتلوونکي کې دې برخې ته نور هم انکشاف ورکړي.

- **په ټولنه کې د بې بضاعته او اسیب پذیره خلکو لاس نیوی**

التقوی د لوړوزده کړو مؤسسې اقتصاد پوهنځی دې ته ژمن دی چې په ټولنه کې د بې بضاعته او اسیب پذیره خلکو لاس نیوی وکړي، لکه: لوړو زده کړو ته د بې بضاعته خلکو د لاس رسي په موخه په عام ډول مناسب فیس، د ټولنې ځینو ځانګړو اقشارو لکه معیوبینو ځینو اناثو ته وړیا سکالرشیپونه او داسې نور.

## د چاپیریالی عواملو مطالعه او د ستر اتیژیکو پروګرامونو لومړیتوب

د اقتصاد پوهنځې اکثره تدریسي چارې د ماسټرۍ او دوکتورا په کچه د علمي کادرونو له خوا یې د تدریسي چارې پر مخ وړل کیږي.اقتصاد پوهنځې د ستراتیژیک پلان د جوړولو په موخه د ټولنې بیلابیلو اقشارو ته مراجعه کړې، تر څو په داخلي چاپیریال کې د خپلو کمزو او پیاوړو ټکو معلوملو او په بهرنې چاپیریال کې د فرصتونو او ننګونو په معلوملو سره راتلونکې ستراتیژیکې موخې وټاکې او د لاسته راوړلو لپاره یې هڅې وکړې.

## د داخلي محیطي عواملو تحلیل

دداخلي محیطي عواملو د تحلیل په موخه لومړې د اقتصاد پوهنځې داخلي پیاوړي ټکي او وریسې د کمزوتیا ټکي په ګوته کوو، ترڅو معلومه شي چې د کومو کمزورو ټکو د پیاوړي کولو له لارې کولای شو سترتیژیکي موخو ته ورسیږو.

**پیاوړي ټکي:**

**1.اقتصاد پوهنځۍ مسلکي او علمي کادرونه لري:**

اقتصاد پوهنځي دداخلي محیطي عواملو د معلوموملو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي د مسلکي او علمي کادرونو لرونکې ده، چې د ماسټرۍ او دوکتورا پوړي تحصیلي اسنادو لرونکې ده.

**2.اقتصاد پوهنځی مجهز تدریسي چاپیریال لري:**

اقتصاد پوهنځي دداخلي عواملو د معلومو په ترڅ کې دا څرګنده شوه ، چې اقتصاد پوهنځي د زده کړو لپاره مناسب تحصیلي چاپیریال درلودونکې دي لکه شنه سیمه، مناسب کلاسونه، په هر کلاس کې LCD درلودل، او د ازموینو د اخستلو لپاره مناسب چاپیریال درلودل.

**3.اقتصاد پوهنځی د محصلینو د ظرفیت لوړوني لپاره کارکوي:**

اقتصاد پوهنځي دداخلي عواملو د معلوموملو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې پوهنځي د محصلینو لپاره علمي سیمینارونه، ورکشاپونه او حتي په هغوې باندې څېړنې ترسره کوي.

**4.اقتصاد پوهنځې د نوښتګر فکر څخه ملاتړ کوي:**

افتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوموملو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي د خپلو استادانو او د ګرانو محصلینو د هر ډول نوښتګر فکر څخه پوره ملاتړ او هم ددغسې فکر د ترسره کولو لپاره زمینه سازي هم کوي.

**5.اقتصاد پوهنځۍ محصلین په ټولنه کې په پراخه کچه برخه اخلي:**

افتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوموملو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي محصلین د سیمې په بیلابیلو اداراتو کې کار کوي.

**6.اقتصاد پوهنځې د لوړوزده کړو وزارت د ملکي قو انینو او مقرریو لایحې عملي کوي:**

افتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عوامولو د معلوموملو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي د لوړو زده کړو د وزارت د قانون اړوند کړنې ترسره کړې.

**7.د غوره محصلینو هڅونه:** افتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عوامولو د معلوموملو په ترڅ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي تل هڅه کړې تر څو د خپلو غوره محصلینو هڅونه وکړي.

**کمزوي ټکي:**

**1.په اقتصاد پوهنځي کې د دوکتورا لرونکو استادانو کمبود:**

افتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوملو په ترځ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي په کافي اندازه دوکتورا لرونکي استادان نلري.

**2.په اقتصاد پوهنځي کې د ښځینه محصلانو او استادانو کمبود شتون:**

اقتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوملو په ترځ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي د ښځینه محصلانو او استادانو کم رنګې موجوده ده.

**3.اقتصاد پوهنځی خپل مستقل کتابتون او کمپیوتر لیب نلري:**

اقتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوملو په ترځ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي معیارې کتابتون او کمپیوتر لیب نلري.

**4.په اقتصاد پوهنځي کې د استادانو لپاره د Staff Room نلرل:**

اقتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوملو په ترځ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي د استادانو لپاره مناسب Staff Room نلري.

**5.په اقتصاد پوهنځي کې د محصلینو لپاره مجهز common Room موجود ندې:**

اقتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوملو په ترځ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي د محصلینو لپاره کوم منظم د ناستې ځاې نلري.

**6.اقتصاد پوهنځي د استادانو لپاره کوم خارجي یا داخلي سفرونو لپاره زمینه نده برابره کړې:**

اقتصاد پوهنځي د داخلي محیطي عواملو د معلوملو په ترځ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي تر اوسه کوم استاد ته د تحصیل یا نورو برخو کې د سفرونو زمینه سازي نده کړې.

| د داخلي عواملو تحليل (internal Factors Evaluation Matrix) (IFEM) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمیر | پیاوړي ټکي | وزن | امتیاز | د وزن نمری |
| S1 | اقتصاد پوهنځي د خپلو ټولو علمي برنامو لپاره معیاري تحصیلي نصابو لري. | 0.14 | 4 | 0.56 |
| S2 | اقتصاد پوهنځي معیاري اداري او تدریسي سهولتونه او امکانات لري. | 0.15 | 3 | 0.45 |
| S3 | اقتصاد پوهنځي معیاري کتابتون لري او د کتابتون ودې او انکشاف ته ژمنه ده. | 0.08 | 2 | 0.16 |
| S4 | اقتصاد پوهنځي د خپلو چارو د تنظیم او ښه مخ ته وړلو لپاره د وخت د غوښتنو مطابق معیاري ډیټابیس، ویب سایټ او د بریښنایي زده کړو سیستمونه لري. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| S5 | اقتصاد پوهنځي د علمي څېړنو تر سره کولو، ودې او انکشاف ته ژمنه ده. | 0.08 | 2 | 0.16 |
| S6 | اقتصاد پوهنځي د خپلو استادانو او اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني لپاره په علمي، څېړنیزې، اداري او مدیریتي برخو کې د ظرفیت لوړوني برنامې لري. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| S7 | اقتصاد پوهنځي د خپلو علمي، څېړنیزو، ټولنیزو، فرهنګي او عملي برنامو د وړاندي کولو له طریقه په ټولنه کې پراخه ونده لري. | 0.02 | 3 | 0.06 |

| شمیره | کمزوري ټکي | وزن | امتیاز | د وزن نمرې |
|---|---|---|---|---|
| W1 | اقتصاد پوهنځي تر اوسه خپل تعمیر نه لري. | 0.08 | 3 | 0.24 |
| W2 | اقتصاد پوهنځي د کیفیت لوړوني د مقتضاء مطابق بریښنایي کتابتون نه دی تنظیم کړی. | 0.15 | 3 | 0.45 |
| W3 | اقتصاد پوهنځي مناسب پارکینګ نه لري. | 0.20 | 3 | 0.60 |
| W4 | اقتصاد پوهنځي د سپورټي لوبو لپاره خپل جمنازویوم نه لري. | 0.01 | 3 | 0.03 |
| W5 | اقتصاد پوهنځي د محصلانو له فیس پرته د عوایدو نور چینلونه، نه لري. | 0.01 | 3 | 0.03 |
| W5 | په اقتصاد پوهنځي کې د محصلینو لپاره مجهز common Room موجود ندي | 0.02 | 3 | 0.06 |
| | مجموعه | 1.0 | | 2.95 |

## د خارجي (بهرنيو) عواملو تحليل

د خارجي عواملو د تحليل په موخه لازمه ده چې فرصتونه او ننګونې په ګوته او په پایله کې د (QSMP) پر بنسټ د ستراتيژيو لومړيتوب وټاکو.

**فرصتونه:**

**1.په اقتصاد پوهنځي کې د نويو ديپارتمنتونو ايجادول:**

اقتصاد پوهنځي د بهرني چاپيريالي عواملو د معلوملو په ترځ کې دا څرګنده شوه، چې اقتصاد پوهنځي د ا فرصت لري، چې نوې ديپارتمنتونه رامنځته کړي.

